# د ژبي ادبي خپلواکي

وايي چي هر سړی په خپل ډول او خپلو کالو او خپل دود ښه ايسي، که يو سړی د بل لپاره جوړ سوي کالي واغوندي نو لستوڼي به يې لنډ وي، غاړه به يې تنګه وي، لمن به يې ارته وي ! هر څوک به ورته ګوري چي دا څه بلا ده؟ او څه يې اغوستي دي؟

که دې انسانانو ته چي زموږ له مخه تيرېږي، يا يې هر کله وينو خير سو او ښه په غور ورته وګورو، دوی په ارزانو او بې قيمته ټوکرانو چي اغوستي يې وي داسي بد نه ايسي لکه چي يو سړي ښه ګران او بهاداره کالي اغوستي وي خو د ده پر بدن باندي سم نه وي، يا ارت وي يا لنډ يا ناوړه وي.

دا نو ولي؟ د سړي ولي له ناوړو څخه بد راځي؟ ولي سړي ته هر ناوړه شی بد ايسي؟

دا خو له دې جهته : هغه شی چي پخپله د هغه سړي نه وي، يا يې له بله غوښتی وي، يا يې داسي جوړ کړی وي لکه د بل سړي مال. نو ځکه هر څوک چي ورته وګوري بد يې راځي، او تره يې ځيني کيږي.

زه چي د ژبي ادب او د ليک اصولو ته ګورم هم داسي راته ښکاري لکه يو سړي چي خپل کالي اغوستي وي يا يې د بل چا کالي په ځان پوري نښلولي وي. مقصد مي دا دئ، چي هره ژبه خانله د ويلو او ليکلو لاري لري، د افادې ډول يې هم بېل وي.

يو مقصد چي په يوه ژبه يو راز اداء کيږي هغه مطلب په بله ژبه بل ډول ويل کيږي، نو څکه موږ د يوې ژبي د افادې او ويلو او محاورې اصول کټ مټ په بله ژبه کي نه وينو د مثال په ډول ليکم چي په پښتو وايي :

"کرتۍ په مېخ ځړېږي" دلته مقصد د حال په فعل اداء سو، ځړېږي له ځړېدل څخه د حال فعل دئ. مگر کټ مټ دغه مقصد په دغه صيغه په پارسو نه ويل کيږي ښايي چي داسي سړى و وايي : "کرتی آويزان است" يا "آويخته است" خو که بيا دغه پارسو تعبير کټ مټ وليکو نو به و وايو چي : "کرتۍ ځړېدونکې ده" يا "ځړېدلې ده" خو دا تعبير بيا د پښتو له ډوله ليري دئ، او سړى نه سي کولاى چي خپله ژبه داسي ورانه کړي.

له دغو مثالو څخه به تاسي ته ښه ځرگنده سوې وي، چي هره ژبه ځانله تعبير، محاوره، د افادې اصول لري، او په ويلو او ليک کي بويه چي هيڅکله د ويونکي يا د ليکوالو هېر نه سي، او تل د ژبي خپل اصلي او فطري د محاورې اصول خوندي کړي.

زموږ ژبه د پخوانو وختو څخه تر اوسه د ليک او لوست له پلوه د نورو ژبو د تعبيراتو او محاورو تر جوغ لاندي ده، او هر چا چي څه ليکلي دي يا يې ليکو، خامخا څه نه څه د پارسو د تعبير او افادې اغيزي پکښي ښکاري، دا څکه چي زموږ ليکوال به خامخا په پارسو پوهېده، او د ويلو لوستلو ژبه هم پخوا هغه وه.

د پښتو منثور آثار يا منظوم کتب او دواوين ټول له دې اغېزې څخه ځان نه سي خلاصولاى او دا يوه ادبي نقيصه ده. چي د ژبي ادبي خپلواکي ور ورانوي، او داسي شى ځني جوړوي لکه چي سړي خپل کالي نه وي اغوستي، او د بل چا دا يې په ځان پيلي وي. د پښتو د نثر په ليکوالو کي محمد هوتک څه نه څه ځان له دې اغېزي څخه ژغورلى دئ او وروسته د منشي احمد جان آثار ډېر



سوچه او پاک دي. منشي له دې لامله پر پښتو ليکوالو ډېر حق لري او څه چي ده په نثر کښلي دي د ژبي له اصلي محاورې څخه ليري نه دي، او هم له دې لامله يې نثر ډېر خوږ او هم سوچه دئ.

ليکوال بايد تل په ليکلو او لوستلو کي ځان د ژبي د محاورې له عمومي ډوله څخه ليري نکړي او څه چي ليکي هسي يې وليکي لکه خبري چي کوي، د نورو ژبو د تعبير پر لار بايد ولاړ نه سي.

دا خبره د ليکوال په ذوق اړه لري پخوا به خلکو پخپلو نوشتو کي قصداً گران گران لغتونه کښل او کچه تعابير به يې په منډل مگر اوس داسي څه ليکل کمال نه بلکي عيب هم دئ. او د يوه ليکوال د ليک ښېگڼه هم دغه ده چي ساده يې وليکي د ژبي مخصوص تعابير هېر نه کړي، او پخپله ژبه پردي اوړده يا لنډ کالي وانه غوندي.

وگورئ پخوا به خلکو د خپل نامه سره احقر يا اعجز ليکه، "احقر الخليفه بل لا شئ في الحقيقه" زما د يوه دوست د نامه طبيعي توک وو، دا تعبير د عربي ژبي له لامله درست هم دئ څکه چي د ليکونکي مقصد هم د خپل بشري عجز ځرگندونه ده نو که دغه تعبير په پښتو سوئ واى، څنگه به يې ليکه ؟

ښايي چي په پښتو د هغو عربو کلماتو ترجمه خوندوره او ښه نه وي، مثلاً که داسي وليکل سي : "تر ټولو خلکو خوار، بلکه د حقيقت له پلوه هيڅ شى" په پښتو دا تعبير او ترجمه ښه نه راځي، بلکي د ادب له پلوه سپکه هم ده.

نو که ضرورت وي چي يو ليکوال خپل بشري عجز وښئي او تواضع وکړي ښايي چي په پښتو ژبه د دې لپاره يو مخصوص تعبير ومومي.

دا کار هم په ليکوال اړه لري، چي د يوه مقصد لپاره خاص پښتو تعبير ومومي، او خپل مطلب په داسي ښېر ځرگند کړي چي د

ده تعبير د ژبې د اساسي ستو څخه مخالف نه وي او هم خوږ او محيطي او خپل تعبير وي.

د مثال په ډول وايم : يو وخت ما د پښتو د يوه خورا ويښ او نوموړي اديب كتاب كوت. دا كتاب تهذيب الواجبات نوميږي، د (۱۳۳۰ هـ) په حدود كې يوه پښتون شاعر مرحوم ملا عبدالباقي افغان په قندهار كې نظم كړيدئ دا سړى لكه ما چې ليدلى وُ پوخ پښتون ملا، او پياوړى اديب وو، د ده كتاب ښكاره كوي چې د ليكوال فكر، ليک، مقصد او ټول ماحول پښتني وو، او د ده تعابير هم سوچه پښتو وو.

د كتاب په مقدمه كې د ځان عجز ښئي. تواشع كوي، په دې تعبير: "د افغان د مانده ډوكى" په دې تعبير كې خو ښيگني ليدل كيږي لومړى دا چې د ليكوال مطلب په ښه ډول ځني ځرگنديږي او د عجزک او تواضع مقصد په بشپړ ډول افاده كوي، دوهم دا چې تعبير هم سوچه او محيطي دئ. كلمات يې خالص پښتو دي. د وطن له جغرافي او اقليمي خواصو سره هم پوره لگيږي. او سړى له دې تعبيره د ليكوال پښتونوالى ښه معلوموَلاى سي.

كله كله په اوسنيو پښتو ليكونكو كې سړى عجيب او غريب تعابير اروي يا يېويني، مثلاً : "د معلوم له قراره" چې د پارسو د غلط تعبير "قرار معلوم" كټ مټ ترجمه ده، دغسي نور ډېر غريب او د خندا وړ تعبيرونه زموږ ښاغلي ليكوال په پښتو خواركى په زوره ننباسي خو سړى چې واروي اريانيږي، چې دا كومه ژبه اروم؟ ليكوال يا ويناوال په كومه ژبه گړ دئ؟

زه چې دا كرښې ليكم مقصد مې دا دئ چې ښاغلي پښتانه ليكوال او قلموال دې خبرې ته ځير كړم او د دوي فكر دې خواته راواړوم، چې د نورو ژبو په بې خونده تعبيرونو ژبه ورانيږي او هم نه ښايي چې يو ليكوال په دې انداز د نورو پېښې وكړي مثلاً :



"احمد په كار كې مهم رول ولوباوه" دا څنگه تعبير دئ، پښتو دئ؟ پارسو دئ؟ انگليسي دئ؟ څه شي دئ؟

لمړى خو دا اروپايي ناوړه تعبير پارسو كټ مټ راواخيست ترجمه يې كړ : "رول مهمى را كرد" دوى هم نبايد داسي د پرديو ژبو مقلد سوي واى ښه بيا چې دوى واخيست. نو موږ ته خو لږ څه فكر په كار دئ، چې زموږ ژبه داسي تعبير مني كه يه؟ "رول" څه معنى؟ او بيا يې "لوبول" څه معنى؟ په داسي خوشي چټي تعبيرو موږ خپله ژبه ولي ورانه كړو؟

ښه كه موږ په خپله ژبه كې د يوه خارجي تعبير لپاره څه نه ومومو،.او مجبور سو چې هغه مطلب كټ مټ واخلو، مجبوريت ښل شي دئ، مگر د نورو ژبو مخصوص تعابير په خپله ژبه بې فكره راگډول، داسي كار دئ لكه چې سړى په لوى لاس د يوې ټينگې ودانۍ تاداى ورنړوي. لكه انسانان چې د ژوندانه په نورو برخو كې تل خپلواكۍ ته اړ دي او داسي ژوندون چې د خپلواكۍ څخه ليري وي د هيچا نه دئ خوښ. دغسي هم په ژبنيو چارو او ادبي خواوو كې د ژبې خپلواكى ضروري ده. هر ژبه ځانله رنگ او خوند او ښله ښه او ادبي جوړښت لري او بويه دغه خپل خوند او رنگ او جوړښت يې په ډېر غور خوندي سي. او د نورو ژبو تر جوغ لاندي نه سي.

يوه ژبه چې په ادبي ښېگڼو او گڼو ښايسته كيږي دا كښې بايد د دې خپلې وي، او څو مو وس وي بويه چې خپله ژبه هم پخپلو گڼو ښكلې كړو په پردو پسولو او ښكلو كالو، كورټ ناوې نه ښايسته كيږي او كه ښايسته هم سي دغه ښايست او ښكلا به يې د څو ورځو وي، او بيرته دا پاتيږي او خپل خداى وركړى رنگ او خوند.

زه چې وايم : زموږ ژبه بايد خپله ادبي خپلواكي له لاسه ونه باسي مقصد مي دا دئ، چې خپل خوند او رنگ ورک نه كړي، په

خپل خدا داد پسول ښکلې وي هر څه چې لري هغه يې خپل وي.
دمخه په پښتو ژبه نثر لږ ليکل سويدئ اوس چې زموږ قلموالو او ليکوالو د ژبې د خدمت او لوړتيا لپاره قلمونه پورته کړي دي بايد لمړی دا فکر وکړو چې زموږ ليکونه د ژبې ادبي خپلواکي ټينګه کړي او د ځان ښېګنې او مزايا يې خوندي سي د پردو رنګ او خوند په لوی لاس پکښې ګډ نه سي.
ليکوال ورونه بايد کورټ دا خبره له غوږه ونه باسي چې د ژبې د ادبي خپلواکۍ ساتنه او ژغورنه د دغه ابتدائي وخت کار دئ تر کومه چې ژبه خپل ادبي نضج مومي او پخيږي او په ليک کې يو خاص او بېل رنګ ځانته پيدا کوي، بايد د دې په ساتنه کي فکرونه وسي، او ليکوال يې د قلمو په قوت ادبي ناموس خوندي کړي.
که نه وي نو به يو وخت داسي راسي، چې بيا به زموږ اخلاف او اولاد پوري اريان وي، او نه به په پوهيږي چې خپله ژبه څنګه د نورو له کرغېړنو اغېزو څخه خلاصه کړي؟ پښتانه وايي : "پردۍ ښېګڼې نيمه خوا دي" دا خبره ډېره پخه خبره ده، پردۍ ښېګڼې د هيچا نه روزي کيږي. هر څوک خپل اجتماعي مال او پتې لري، زموږ ژبه هم ځانله بېل رنګ، بېل خوند، بېله جوله او بڼه لري. داسي پسول ورته ښايي چې د دې خپل وي، او تر ابده ښه په وايسي، نو که موږ پردۍ ګڼې او پسولونه په وځړوو، دا ښايست يې يو څو ورځي دئ، بيرته دا پاتيږي او خپل رنګ او خوند ! ولي دا يوه منلې سوې او غټه خبره ده چې :
**"پردۍ ښې نيمه خوا دي"** ! (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۲۳ ل کال، ۵ مه ګڼه، ۱ _ ۳ مخونه.